**مطبوعاتي اعلامیه**

**موږ به څنګه د الله سبحانه وتعالی د رضایت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفاعت وړ وګرځو، که چیرې موږ له روسې سره ګډ پوځي تمرینونه تر سره کړو؛ هغه چا چې په بې رحمۍ د سوریې مسلمانان بمبار کړل، په هند یې وسلې وپلورلې او د اذربایجان د مسلمانانو په مقابل کې یې له ارمنستان سره مرسته وکړه؟**

د ۲۰۲۰م، د نوامبر په پنځمه د روسې ځانګړي ځواکونه د دوو اونیو لپاره د ګډو پوځي تمرینونو "DRUZHBA 5" په خاطر پاکستان ته راغلل، تر څو په جګړه (تروریزم) کې تجربې سره شریکې کړي او وروستي تمرینونه یې یو کال وروسته تر هغې پیل کړل، چې د سوریې مسلمانان یې د بمباریو له کبله له خاورو سره خاورې کړل. که څه هم دغه ډول ګډ تمرینونه د دې لامل ګرځي، چې کمزوری دولت له ځواکمن څخه ګټه واخلي او په عملي توګه هغه مستعمره حکومت ته اجازه ورکوي، تر څو د ځواکمن دولت پوځي توانایيو ته لاسرسی پیداکړي. د دوی د جنګي تکتیکونو په اړه پوه شي، نیمګړتیاوې او ناتوانایۍ او همدارنګه د پرمختګ عوامل یې وپیژني، په ساحه کی نفوذ پیداکړي او د خپلو وسلو او توانایيو په وسیله وېره خپره کړي. سربیره پردې چې دا پوځي تمرینونه له کافرو روسانو سره دي او لاسونه یې د سوریې د مسلمانانو په وینو سره دي. هغه کفار چې نوې وسلې یې د مسلمانانو په سرونو وازمویلې. دا خو هماغه روسیه ده، چې په دې وروستیو کې یې د یوولسم ځل لپاره زموږ له دښمن هند سره ګډ پوځي تمرینونه(INDRA) وکړل او په ضمن کې یې د S-400 میزایلو سیستم هم پر هندو حکومت خرڅ کړ. دا خو هماغه روسیه ده چې په سلګونو زره د افغانستان مسلمانان یې شهیدان کړل او همدارنګه د چیچنیا، قفقاز او پخپله د روسې پر مظلومو مسلمانانو یې ډېر بې رحمه ظلمونه وکړل. دا خو هماغه روسیه ده چې د اذربایجان د مسلمانانو په مقابل کې یې د امریکایې پوځیانو ملاتړ وکړ. نو د دغه تروریستي حکومت کومه شریکه شوې تجربه به موږ تقویه کړي چې د دوی ټوله جګړه د مسلمانانو او اسلام په مقابل کې ده!؟

**ای د پاکستان مسلمانو پوځیانو!** څنګه دغو قوانینو تاسې دې ته اړېستلی، چې په دومره نړۍ کې له دغو ظالمانو سره یو ځای ګډ پوځي تمرینونه ترسره کړئ؟ ایا د کشمیر ازادول د تاسی لپاره غوره پوځي تمرین نه و، چې تاسې به شاید په غازي او یا هم شهید کیدو سره ډېر زیات اجر تر لاسه کړی وای؟ نو تاسې به څنګه عمل کوئ، کله چې د باجوه-عمران رژیم ستاسې مخه ونیسي په داسې حال کې چې د هند حکومت اشغال شوی کشمیر خپل کړي؟ له دې چټلې سیاسي او پوځي رهبرۍ څخه ځانونه ازاد کړئ، چې د غربي موخو لپاره

وفاداره او صادق دي؛ خو د اسلام او د هغه له قوي تصویر څخه بې خبره دي، چې همیش به یې ځواکمنو دښمنانو ته ماتې ورکوله.

څنگه هغه روسیه مور ته شجاعت او جنگ را زده کولی شي، چې د افغانستان او پاکستان مسلمانانو په واسطه یې ښکر مات شول؟ پر دې سربېره په مرکزي اسیا کې د خلافت د ایجاد مخه نیسي او دا خلافت به ممکن اول په پاکستان کې جوړ شي. ممکن دا یو بنیادي او غاښ ماتوونکی ځواب وي، چې مسلمانان یې د بې رحمه ظلمونو په مقابل کې دښمن ته ورکوي. ان په کرملین کی یی د پوتین او د هغه د ملگرو په زړونو کی سخت ډار یی اچولی دی. دغه راز دا به یو پیل و، چې د سپینی ماڼی او د Ten Downing Street د اشغال د ختمولو لپاره د خالد ابن ولید زامنو ته دا امت په تمه دی. نو اوس حرکت وکړئ او د الله سبحانه وتعالی دا ژمنه تاسو ته په تمه ده. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَافِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلعِزَّةَ لِلَّه جَمِيعاً﴾**

[النساء: ۱۳۹]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې مومنان پرېږدي، له کافرانو سره د دوستی اړیکې ټینگوي، ایا دا خلک د عزت لاس ته راوړلو لپاره هغوی ته ورځي؟ په داسې حال کې چې هر راز عزت یوازې د الله تعالی لپاره دی.*

**د حزب التحریر ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲هـ.ق، د ربیع الاول ۲۲مه**

**۲۰۲۰م، د نوامبر ۸مه**